د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا لوړ مقام
د دفتر لوی ریاست
د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

# د کلني راپور فارمټ – فارمت راپور سالانه

| | |
|---|---|
| د اداري بشپړ نوم | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| نېټه | ۰۴/۰۵/۱۴۰۴ |
| د لاسته راوړنو شرح | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت خپلو عمده موخو ته د رسېدو په پار د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ د سیستم مدیرت، انسجام، سازماندهي، بیارغونه او څارنه شامله ده او د ښه، خوندي، د لاسرسي وړ له چاپیریال سره موافق د خپل هېواد د پرمختګ او د اقتصادي ودې او د نړۍ او سیمې سره پر اتصال متمرکز دي خدمتونه وړاندې کوي.<br>په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د دغه وزارت مهمې لاسته راوړنې د ټرانسپورټي تاسیساتو جوړولو ، کارموندنې، ټرانسپورټي خوندیتوب، د ټرانسپورټي خدمتونو وړاندې کولو ، هوايي چلند د پراختیا، پرمختللو الکترونیکي سیستمونو، د کډوالو وړیا لېږد او د څارنې او کنټرول په برخو کې دي.<br><br>**د لاسته راوړنو شرح**<br>• ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په ۱۴۰۳ل کال کې له پراختیایي بودیجې څخه (۵۵) پروژې درلودې چې ددې جملې څخه د (۳۴) پروژې د پلي کېدو په نهايي حالت کې قرار لري، چې د ۳ څخه تر ۴ زرو کسانو لپاره په مستقیم او غیرمستقیمه توګه د کار زمینه برابره شوېده.<br>• په ۱۴۰۴ ل کال کې د (۴۰) په شاوخوا کې پروژې لرو چې د پلي کېدو، ډیزاین او تدارکاتي برخو کې قرار لري<br>• ټرانسپورټ او هوايي جلند وزارت د هوايي چلند او واټ ټرانسپورټ برخه کې د معیاري ترمینلونو، تیرپارکونو، ټولګیټونو او تم ځایونو د جوړولو په موخه د څه کم د (۲۳) زره جریبه ځمکې لېږد کړی دی چې ددې ځمکو په آبادولو سره به زموږ هېواد لا نور د یو پرمختللي هوايي او ځمکني ټرانسپورټي سیستم درلودونکی وي |

- همدارنګه د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د واټ ټرانسپورټ او هوايي چلند برخو کې د (۲۰) څخه د زياتو پروژو د جوړولو په موخه د پانګوالو جذب  په اړه فعاليتونه تر سره شوي دي او د ځينو تړونونو لاسليکول.
- د هېواد په ( ۱۹ ) ساحو کې د تيرپارکونو  د خارجي ټرانزيټ وسايطو لپاره د ترمينلونو د اعمار چارې به ډېر ژر پيل شي چې ددې پروژې په تکميل سره به خارجي وسايطو او موټروانانو هـ لازم سهولتونه وړاندې کړی شو
- د ښاري ترمينلونو، تمځايونو د جوړولو په موخه کابل ښار کې د (۲۱) نقطو او سيمو کې د ځمکو تثبيت چې په دې سره به وکولای شو د ښاري ټرانسپورټ په برخه کې لا نورې اسانتياوې را منځته شي.
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند ټولټال څه باندې (۵) زره کارکوونکي  د هېوادوالو د خدمت لپاره په واک کې لري.
- د وزارت  اړوند خالي بستونو کې د ازادې سيالۍ له لارې  کابو ۷۰۰ کسان په دندو ګمارل شوي دي.
- د کارکوونکو ظرفيت لوړونې په موخه په هېواد دننه  او بهر کې د څه باندې ۴۰ ښونيزو پروګرامونو برابرول او د اړتيا سره سم څه کم ۲۰۰ کسان چين، عربي متحده امارات، هندوستان، او داسې نورو هېوادونو کې حضوري او پرليکه يا آنلاين ډول د لنډمهاله زده کړو زمينه برابرول.
- د اداري، مالي او تدارکاتي چارو تنظيم سيستم، د املاکو د ثبت، مديريت او عوايدو سيستم، د مسافروړونکو او باروړونکو وسايطو د احصايې او عوايدو سيستم را منځته کول چې د هوايي چلند او واټ ټرانسپورټ الکترونيکي برخه کې يو نوښت بللی شو.

»»»»»

- د نړيوالو هوايي ډګرونو څخه د حج فريضې ادا کولو لپاره سعودي عربستان ته د (۳۰) زرو حاجيانو خوندي لېږد رالېږد.
- د ملکي هوايي چلند انسټيټيوټ څخه د څه کم ۸۰تنو مسلکي کسانو فارغېدل او په خپلو برخو کې پر دندو ګمارل شوي دي  د يادولو وړ ده چې (۶) ډيپارټمنټونو کې (د هوايي چلند ټرافيکو،هوايي چلند ټکنالوژۍ، اطفائيې، هوا پېژندنې، واټ ټرانسپورټ او د هوايي چلند ځمکني خدماتو ) کې څه کم
( ۳۰۰) تنه محصلين  په زده کړو بوخت دي.
- ملکي هوايي چلند انسټيټيوټ  د څېړنو مهم مرکز رامنځته کول چې  د هوايي چلند ټکنالوژۍ (CNS) څانګو محصلين پکې د ځغاستليکې د ځراغونو ډيزاين، د هوايي ډګرونو ځراغونه، 3Dنقشو او د هوايي چلند پر موضوعاتو او نوښتونو  باندې څېړنې او عملي کارونه کوي.
- هېوادوالو او په ځانګړې توکه د هېواد ټولو نړيوالو او محلي هوايي ډګرونو ته د هوا حالاتو راپوروونه ورکول او ددې تر څنګ د هواپېژندنې برخه کې د

| | |
|---|---|
| (۳۰) اتومات سټېشنونو خريداري او نصب چې په دې سره به زموږ د هواپېژندنې برخه لانوره پياوړې شي.<br><br>• د اريانا افغان او کام اير هوايي شرکتونو ترڅنګ ترکيش، العربيه ، فلای دوبی ، معراج، ايران‌اير، ايران تور، کيش اير، ماهان، هوايي شرکتونو الوتنو ته د اسانتياوو او خدمتونو د زمينې برابرول.<br>• د افغانستان د ټولو هوايي ډګرونو څخه څه باندې (۱۴۰۰۰) الوتنې شوې دي او په ځانګړې توګه د کابل نړيوال هوايي ډګر څخه ( ۷۶۶۵) الوتنې شوې چې (۳۴۰۰) داخلي او ( ۴۲۶۵) يې بهرنۍ الوتنې دي.<br>•<br>• په ټولو نړيوالو هوايي ډګرونو او په ځانګړي توګه کابل نړيوال هوايي ډګر کې د مسافرينو د تلاشۍ ساحې پراخې شوې، برقي دروازې نصب شوې، ساحې زرغونې شوې او د اوبو د جريان سيستمونه تنظيم شوي، نوی پرمختللی راډيويي سيستم نصب شوی، د تاور پوښښ ساحې پراخې شوي دي.<br>• په هوايي دګرونو کې د لويو پروژو څخه موږ د کابل نړيوال هوايي ډګر کې د لوی انتظارځای پروژه،د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر د رمپ پراختيا د خواجه عبدالله انصاري نړيوال هوايي ډګر د چاپير ديوال او د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر (بلخ) کې د انتظارځای او تم‌ځای جوړېدل او دDVOR/DME ، PAPI( هوايي چلند اړوند) څراغونه او غړيزې خبرتيا سيستم فعالېدو يادونه کولای شو.<br>• د ټول هېواد په هوايي ډګرونو کې د فريکونسيو تثبيت، تنظيم او کارېدونکو مخابروي وسايلو ته پراختيا ورکول شوې ده.<br>• د الوتنو د خونديتوب په اړه ويلای شو چې د الوتنو لپاره زموږ د ټولو هوايي ډګرونو څخه معياري او پر وخت خدمات وړاندې کيږي او نړيوال هوايي ډګرونه مو د هوايي چلند نړيوالو اصولو سره سم برابر دي.<br>• د فيض‌اباد، لشکرګاه، خوست، ترينکوټ، هلمند، چغچران، هرات او کابل هوايي ډګرونو کې د بېلابېلو تخنيکي تجهيزاتو ترميم، انتقال او نصب شوی دی.<br>• د هېواد د ټولو هوايي ډګرونو ۲۴ ساعته څارنه، ساتنه او د تخنيکي ستونزو د مخنيوي لپاره منظمې کتنې ترسره شوې دي.<br>• په هوايي ډګرونو کې X-ray ماشينونه، د فلز کشف وسايل، امنيتي کمرې، او نور هغه تجهيزات چې د هوايي ډګرونو د امنيت لپاره اړين وي تر نظارت لاندې فعال دي.<br>• اوسمهال موږ روسيې، ترکيې، هندوستان، قطر، ايران، متحده عربي امارات، چين، ازبکستان، پاکستان، کويټ، سعودي عربستان او داسې نورو هېوادونو ته الوتنې لرو.<br>«««««««««<br>• رسمي ټرانسپورټي وسايطو ته د حق الخدمت د محصول الکترونيکي کول | |

- له روسیې او تاجکستان هېواد سره د ټرانسپورټي همکاریو هوکړې لاسلیک شوې.
- د CMR ( د سړک له لارې د توکو د لېږد نړیوال کنوانیسیون)نړیوال لاربښود سند تطبیق شوی او تر اوسمهاله ۹۱۹ سندونه صادر شوي.
- د نړیوال واټ ټرانسپورټ برخه کې افغانستان دا مهال له (۷) هېوادونو(ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، قزاقستان، ترکیه، ایران او پاکستان) سره ټرانسپورټي موافقت‌نامې لري چې ګټورې تمامې شوې دي
- د افغانستان د رېل کنسرسیوم جوړېدل. د اقتصادي معاونیت په لاربښوونه، د افغانستان د رېل لېږد لپاره کنسرسیوم جوړ شو، دا کنسرسیوم د چین، ازبکستان، ترکمنستان، پاکستان، ایران او قزاقستان له لارې د توکو د ترکیبي ټرانسپورټ همغږي کوي.
- د قزاقستان سره اړیکې:

موافقت‌نامه نهایی شوې، د تیر (TIR) سیستم ازمایښتي محموله لېږدول شوې قزاقستان د افغان موټر چلوونکو لپاره ویزې تصویب کړې او ۲۱ تنه ور پېژندل شوي.

- د TAD سند تطبیق شوی له کویټې او پېښور آتشو له څخه څه باندې (۱۰) زره TAD موقت سندونه صادر شوي.
- په ۱۴۰۳ کال کې (۲۱۶) باروړونکي شرکتونه او (۱۶۲) مسافروړونکي شرکتونه ثبت شوي چې ټولټال (۵۸۴) باروړونکي او (۲۴۵) مسافروړونکي شرکتونه د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سره رسمي ثبت دي.
- د باروړونکو او مسافروړونکو موټرو لپاره د کرایې لایحې پلي کول او په پوره توګه یې نظارت تر سره شوی دي چې دا لړۍ په پرلپسې توګه دوام لري
- په ۱۴۰۳ل کال کې د سرحدي بنادرو څخه (40442) وسایط هېواد ته راتګ کړی او (49245) وسایط هېواد څخه تللي دي
- په ۱۴۰۳ل کال کې ټول هېواد کې د ښاري او اطرافي ټرانسپورټ برخه کې د هر نوعیت موټرونو په واسطه (۱۴۵،۲۶۸،۲۲۹) یو سل او پینځه څلوېښت ملیونه، دوه سوه او آته شپېته زره او دوه سوه او نهه ویشت مسافر او ( ۱۲،۴۸۱،۶۰۸) (ټنه) بار انتقال شوي دي
- د ۱۴۰۳ کال په اوږدو کې د( ۴۴۵۰۷ ) ترانزیت وسایط له بېلابېلو بندرونو څخه تګ راتګ کړی دی.
- د مسافرو د انتقال په موخه د شخصي موټرو د فعالیت او د پلیټ نه لرونکو وسایطو له فعالیته مخنیوی شوی دی.
- تولیدي شرکتونو او سوداګرو اموالو د لېږد لپاره د یو ځانګړي میکانیزم رامنځته کول او له رونډ نوبت پرته به کارتونه ورکول کیږي.
- کابل ښار کې په (۱۵۰) مسیرونو څه باندې (۲۰) زره ټکسي او څه باندې ( ۵) زره بس موټرونه فعالیت کوي.
- د یو منظم رونډ نوبت را منځته کول چې عملاً اوسمهال پکې د موبایل اپلکیشن څخه استفاده کیږي.
- د مسافرو د خوندیتوب، د ترافیکی پیښو د کچې را کمولو او لیږدوونکو وسایطو د معیاری کولو په موخه د کابل ښار په اطرافی ترمینلونو او هډو

| | |
|---|---|
| | کې د انجنیرانو  له لوری څه کم ( ۳۰ ) زره مختلف النوع مسافروړونکو وسایطو تخنیکی وضعیت کنټرول شوی دی.<br>• په ۱۴۰۳ل کال کې د مسافرو او بارونو د خوندي لېږد په موخه په مسافروړونکو او باروړونکو وسایطو کی ( ۶۷۴۱ ) د جی پي اېس الې نصب شوې دي چې د پیل څخه تر دې مهاله ټولټال څه باندې (۱۱) زره نصب شوې دي او د نصب لړۍ یې دوام لري.<br>• په ۱۴۰۳ل کال کې د جی پي اېس د کنټرول او څار خونې څخه څه باندې (۱۰۰۰) هغه موټرو سره اړیکه، توصیه او قانوني چلند شوي کوم چې د زیات سرعت درلودونکي وو او د جی پی اېس د مقرراتو څخه به یې سرغړونه کوله.<br>• د وزارت د څارونکو او نظارتي ټیمونو له لوري تېر ۱۴۰۳ کال کې څه باندې (۳۰۰) شرکتونو او ټولو ولایاتو کې د بندرونو ، هډو ، ترمینلونو او پروژو د پلي کېدو څخه نظارت تر سره شوی دی چې ښې پایلې یې درلودې<br>• ۱۴۴۶ کال کې ټول هېواد کې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت په مشرۍ د ټرانسپورټ کمېټې له لورې (۵۴۰۴۹۸ ) پینځه سوه څلوېښت زره او څلور سوه آته نوي کډوال لېږدول شوي دي چې د هرات او نیمروز څخه یې شمېر څه باندې ( ۲۶۰) دوه سوه او شپېته زره کډوال دي او دا لړۍ دوام لري.<br>• د یو کال په موده کې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سرپرست محترم الحاج ملا حمیدالله اخندزاده، معین صاحبان او نورو مسؤلینو له خوا له نږدې (۲۰) څخه ډېرو هېوادونو لکه: (عربي متحده امارات، قطر، ازبکستان، روسیه، تاجکستان، چین، ایران، پاکستان، ترکیه، هندوستان، سینګاپور، سویس، اندونیزیا، قزاقستان، بنګله‌دیش) او نورو هېوادونو ته رسمي او تخنیکي سفرونو ترسره کړي دي.<br>**د سفر موخې او لاسته‌راوړنې:** د دوه اړخیزو هوایي او ځمکنیو ټرانسپورټي دهلېزونو د رامنځته کولو، د لاجوردو لارې د غړو هېوادونو سره د تخنیکي همکاریو، د شمال-جنوب فورم کې د لوجستیکي ستونزو د حل، د هوایي خدمتونو د پراخوالي، د ICAO او WMO سازمانونو سره د نړیوالو همکاریو پراخول، د چابهار بندر لپاره د تیر پارکونو ارزونه، د تخنیکي معاینې مرکزونو څخه لیدنه او د کارکوونکو د روزنې علمي بورسونو، کنفرانسونه او کورسونو په اړه لیدنې او هوکړې شوې دي چې یاد سفرونه د واټ ټرانسپورټ او هوایي چلند برخه کې ګټور بلل کیږي. |
| **ترکار لاندې / پلان شویو فعالیتونه شرح** | ✓ کابل نړیوال هوایي ډګر  د ترمینل د پراخولو او پرمختګ پروژه تطبیقول.<br>✓ د ساختماني پروژو څارنه او پلي کول.<br>✓ د واټ ټرانسپورټ عوایدو بشپړ الکترونیکي کول.<br>✓ په ترمینلونو او هډو کې د پاس ماشینونو نصب.<br>✓ موبایل اپلیکیشن ته هر اړخیزه پراختیا ورکول.<br>✓ د هوایي چلند لپاره ځانګړی موبایل اپلیکیشن جوړول.<br>✓ د هوا پېژندنې ریاست، کابل نړیوال هوایي ډګر، د واټ ټرانسپورټ او ملکي هوایي چلند انستېټیوټ د مرکزي ډېټاسنتر سره نښلول.<br>✓ د شبکو او امنیتي تجهیزات لا نور معیاري کول او پراخول. |

| | |
|---|---|
| ✓ د ټول هېواد په کچه د وسایطو تخنیکي ارزونې پراخول.<br>✓ د GPS سیستم او کنټرول روم پرمختګ.<br>✓ د رسمي ټرانسپورټي وسایطو ترویج | |